مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندهٔ مضمون میباشد، عقیدهٔ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد.

مصطفی پسرلی ۲۰۱۹/۰۴/۲۹

# غـزل

ته ما نه نا خبره زه له تا نه ناخبره
بلا مو خوري لګیا ده، یو بلا نه ناخبره

داغونه د نفاق زمونږ په زړونو باندې جوړ دي
درمل یې موندی نه شو له شفاء نه ناخبره

کوي سوداګري، سوداګران مو په سرونو
یو ښکیل په دسیسه کې ماجرا نه ناخبره

د زهرو پیچکاری راته مزغو کې همیش کاندي
دا خوک دي نه پوهیږم له ربښتیا نه ناخبره

د ژوند خواږه مې یوړلو د اوښکو سیلابونو
ژړا سره عادت شوم له خندا نه ناخبره

ړانده کله لیدی شي پسرلیه ستا ښائیست
د ګلو تماشې او له ښکلا نه ناخبره

مصطفی پسرلی
25/04/2019


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولـئ